مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخړ
۲۰۲۴/۰۲/۱۴

# د یهودو عادلانه جګړې
## (ځانګړي برخه)



(د غزې بې‌دفاع اوسیدونکي او د اسراییلو نا‌انساني او وحشي بمباری)

دغه لیکنه چې د یهودانو د جګړو د څرنګوالي په اړه مالومات وړاندې کوي، بایده وو چې د لیکنو په لومړۍ برخه کې لیکل شوي وای. چې وروسته به د کتاب د چاپ پر مهال تنظیم شی.
په دې موخه چې ښاغلي او آغلي لوستونکي د یهودو لخوا د غزې پر تول‌وژنو او د یهودو د جګړو پر بنسټیزو موخو لا ښه خبر شي نو دا لیکنه په یوه (ځانګړي برخه) کې خپروم.
لاندې مالومات پروفیسور اسراییل شاهاک (چې په‌خپله یهود توکمه شخص دی) د تلمود کتاب (چې د یهودانو فقه هم ده) د اصلي عبري منابعو پر بنسټ په خپل کتاب (تاریخ یهود، آیین یهود...) کې راغونډ کړي دي چې تر ټولو باوري مالومات دي.

**د جګړې پر مهال او سیمه کې د ټولو غیریهودانو وژل واجب او اجباري دي:**

په تېرو لیکنو کې مو څو ځله ولوستل چې د یهودانو دیني کتاب تورات یهودان د نړۍ له نورو قومونو غوره او ځانګړی قوم بللی دی خو د تورات مفسرینو بیا د نړۍ نور قومونه د انسانانو له لوړ مقام څخه د څارویو او حیواناتو کچې ته راټیټ کړي دي.
له دې امله ده چې یهودان غیریهود وګڼي، په ځانګړي توګه د جګړې پر مهال، هر ډول بې‌وسلې کسان: لکه ښځې، ماشومان بوډاګان او نور په خلاص لاس وژني ځکه چې د تلمود د فتوا پر بنسټ ټول غیریهودان ماران دي او د مارانو هغه ښه یې هم باید ووژل شي:**«د غیریهودانو هغه ښه یې هم ووژنه؛ باید د ښه مار ماغزه هم وپاشل شي.»**
**«د جګړې پر مهال د دوی وژل (اجباري او واجب) دي... .»**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

پروفیسور اسراییل شاهاک وایي چې هغه تولوژني چې په تورات کې راغلي دي، تلمود او د تلمود ادبیاتو لا نور شدت ورکړی دی. اغېزلرونکي خاخامان چې د اسراییلو په پوځ کې دېر کسان لري، فلسطینان (حتا تول عرب) د هماغه پخوانیو قومونو [عمالقه] په څېر بولي او داسې امر کوي چې **«ته باید هېڅوک ژوندی پرېنږدې.»**
استاد اسراییل شاهاک زیاتوي:**«اسراییلي عسکرو ته ویل کېږي چې د غزې فلسطینیان د عمالقه[1] په څېر دي.»** (اسراییل شاهاک:تاریخ یهود، آیین یهود (سابقهٔ سه‌هزار ساله) فارسي ژباړه: ډاکټر مجید شریف. ۲۲۸مخ)
لیکوال وړاندې ځي لیکي:«دېر پخواني خاخامي مفسران دغې منطقي پایلې ته رسیدلي دي چې د جګړې پر مهال هغه غیریهودان چې پر یوې دښمني ډلې پورې اړه ولري، باید تول ووژل شي.» (هماغه کتاب: فارسي ژباړه: رضا آستانه‌پرست. ۱۵۰مخ)
اسراییل شاهاک وایي:«د ۱۹۷۳ز، کال وروسته اسراییلي عسکرو ته دا ډول ښووني او روزني په څرګنده توګه ترسره کیدلې چې د لومړي ځل لپاره دغه ښووني په رسمي توګه په یو کتابګوټي کې ولیکل شوې... په دې کتابګوټي کې د پوځ مشر خاخام داسې لیکلي:«کله چې د جګړې او یا د وسلوال یرغل پر مهال زموږ ځواکونه له بېوسلې [غیریهودانو] سره مخ کېږو او په دې ډاډمن نه وو چې هغوی به موږ ته زیان نه رسوي، **نو دا بېوسلې کسان د تلمود د هلاخا [کتاب] پر بنسټ کولی شئ چې باید ووژل شي.[2] هېڅکله نه شو کولی چې په یو عرب باندې باور وکړو،** تر دې که هغه متمدن هم په نظر راشي. کله چې په جګړه کې زموږ ځواکونه یو پرېکنده یرغل ترسره کوي، **(هلاخا) هغوی ته اجازه او امر کوي چې حتا د [غیریهودانو] بېوسلي هغه ښه کسان هم ووژنئ،** هغه ناپوځیان چې ځانونه [ښه] ښکاره کوي.» (هماغه کتاب: فارسي ژباړه:ډاکټر مجید شریف. ۱۹۳مخ)
همدغه زده‌کړې په لاندې لیکونو کې د اسراییلو یو ځوان عسکر او د هغه [دیني لارښود] خاخام تر منځ مطرح شوي دي چې دغه لیکونه د اسراییلو په مشهوره او لویه دیني مدرسه (نوآم) په کلني کې خپاره شوي دي (چې د [اسراییلو] د ملي مذهبي ګوند او د ګوش امونیم یو شمېر مخکښ مشران له نوموړي مدرسې فارغ شوي دي.)
د دغو لیکونو ځیني اړیني برخې په لنډه توګه راالېږدوم:

**د [اسراییلي] عسکر موشه لیک، خاخام شیمون وایزر ته:**

وروسته له دعا او سلام:
«زموږ په ډله کې (د وسلې [جګړې] د اخلاقو) په اړه خبرې اترې رواني وې، موږ ویل چې آیا بېوسلي سړي یا ښځې او ماشومان ووژنو؟ کیدی شي له عربو غچ واخلو؟ وروسته هر یو خپل، خپل ځواب وړاندې کړ. خو زه نه شم کولی یو روښانه تصمیم ته ورسېږم، آیا له عربو سره د عمالیقه په څېر چلند وکړو، اجازه لرو چې هغوی قصداً ووژنو، تر څو د آسمان له لاندې ښخه ورک شي؟ که د یوې عادلانه جګړې غوندې عمل وکړو چې په هغه کې یوازې سرتیري وژل کیږي؟»
اسراییلی عسکر، موشه په خپله دویمه پوښتنه کې لیکي:«اجازه لرو چې د یوې [غیریهودی] ښځې د ژغورلو لپاره ځان په خطر کې واچوو؟ (داسې پېښې لیدل شوي دي چې ښځو هم لاسي بمونه غورځولي دي.)
آیا اجازه لرو چې کله یو عرب د تسلیمی لاسونه پورته کړي وي، هغه ته اوبه ورکړو؟ او دا وېره هم لرو چې هغه به زموږ د وژلو لپاره د غولوني په موخه لاسونه پورته کړي وي چې دا ډول پېښه هم رامنځ ته شوي ده.» (هماغه کتاب. ژباړن: ډاکټر مجید شریف. ۱۹۴-۱۹۵)

**د ربي (خاخام) شیمون وایزر ځواب موشه ته:**

وروسته له دعا او سلام:

---

[1]: عمالیق او نور قومونه چې په پخواني کنعان، اوسني فلسطین کې اوسیدل، د یهودانو لخوا داسې وژل شوي دي، لکه نن چې اسراییل په غزه کې بېوسلي او مظلوم فلسطینیان، ښځې، ماشومان، بوډاګان حتا په روغتونو کې ناروغان او ډاکټران وژني. د عمالیقه او نورو قومونو د تولوژنو په اړه د لیکنو په لومړی برخه کې لوستلی شئ.

[2]:دغه جمله **(کولی شئ چې باید ووژل شی.)** د اکتر مجید شریف او رضاآستانه‌پرست په دواړو ژباړو کې په همدې بڼه ژباړل شوي ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په خیر و لولئ

«... جګړه زموږ لپاره لوبه نه ده، بلکې يو حياتي اړتيا ده نو بايد په همدې معيار باندې تصميم ونيسو چې څه ډول جګړه وکړو... .»

په دې ځای کې خاخام شيمون د يو بل خاخام شيمئون فتوا ليکي:«ربي (خاخام) شيمئون ويلي:

**د غيريهودانو هغه ښه يي هم ووژنه؛ بايد د ښه منګور (مار) ماغزه هم وپاشل شي.»** (هماغه کتاب، ژباړن: رضاآستانه‌پرست. ۱۵۲مخ)

خاخام شيمون د شيمئون د پورته فتوا په اړه پوښتنه کوي او په‌خپله ځواب هم ورکوي، هغه وايي:«...پوښتنه دا ده چې ولې د غيريهودانو هغه ښه يي هم بايد ووژل شي؟

ځواب دا دی چې «موخه د جګړې پر مهال ده... .»

«د تلمود د ملحقاتو د مفسرينو له وينا سره سم، بايد د سولې او جګړې تر منځ توپير وشي، په دې مانا: د سولې پر مهال د غيريهودانو وژل په [مخامخ] توګه منع دي **خو د جګړې پر مهال د دوی وژل (اجباري او واجب) دي... .»**

شيمون په پای کې وايي چې «د يهودي او غيريهودي توپير دا دی:«هر هغه څوک چې وغواړی تا ووژني، ته لا دمخه هغه ووژنه.» (هماغه کتاب، ژباړن: رضاآستانه‌پرست. ۱۵۳مخ)

د شيمون خاخام له اوږده ځواب وروسته، اسراييلي عسکر موشه نوموړي خاخام ته وليکل:«... زه داسې پوه شوم: **د جګړې پر مهال نه يوازې دا چې زه اجازه لرم، بلکې مکلف يم، هر عرب، ښځه يا سړی چې دا وېره ترې کېږي چې په جګړه کې زموږ له دښمن سره مخامخ يا نامخامخ مرسته کوي بايد ويې وژنم... .»** (هماغه کتاب او ژباړن.۱۵۴مخ)

دا وو د اسراييلو د وحشي جګړو قوانين چې نن ورځ کتېمت په غزه کې د متمدنو اسراييلو لخوا پلي کيږي.



(د غزې ترهېدلي ماشومان)

نېټه:۱۴۰۲/۱۱/۲۵ل. ل

**نور بيا**



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ